Social Sceince
AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# د ښوونځیو د عالي دورې اړوند پښتو نصاب د ودې له پاره د ژبپوهنیزو موضوعاتو ارزونه

پوهنمل حبیب الله پوپل*[1]، پوهنیار عتیق الله مشعل[2]، پوهنمل نصیر احمد تائید[3]
[1]پښتو څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار پوهنتون
[2]انګرېزي څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار پوهنتون
[3]پښتو څانګه، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، کندهار پوهنتون
مسؤل ایمیل ادرس : asadullahtt@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۱۱/۱٦ منل سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۰۳ خپره سوې: ۱۴۰۳/۱۲/۳۰ د ثبت ګڼه: LSSAJ-1-2-24 مخونه (۱۰-۳۳)

## لنډیز

اوسنی تحقیق د ښوونځیو د عالي دورې اړوند پښتو نصاب د ودې له پاره ژبپوهنیز موضوعات څېړي او ارزوي، ترڅو د ښوونځیو په پښتو نصاب کې د ژبپوهنې متوازین او غني کریکولم رامنځته سي. د ښوونځیو د عالي دورې پښتو نصاب د ارزونې له پاره د دمیر او ایرتاس (۲۰۱۴) انتخابي چک لیست غوره سوی دئ او مسائل د توضیحي مېتود پر مټ تشریح سوي. د معلوماتو پایلې ښیي، چې د افغانستان د معارف وزارت اړوند د پښتو مضمون نصاب د مطالبو او مضامینو، اصلي او فرعي مهارتونو، ترتیب او فزیکي جوړښت او علمي ملاحظات تر ٦۰ فیصده کم مثبت ارزول سوی، چې د دمیر چک لیست پر اساس هیڅ د منلو او چلښت قابلیت نه لري. د دې څېړنې موندني د نوي پښتو نصاب جوړوني په بهیر کې حیاتي ارزښت لري، چې په عملي کېدلو سره به ئې موږ یو معیاري نصاب ولرو.

**کلیدي کلمې:** پښتو ژبه، ژبپوهنه، ښوونځی او نصاب.

## سریزه

د ژبې لومړنی مرام د بشري ټولنو په منځ کښې افهام او تفهیم او اړیکې ساتل وه. ژبه د تمدن یوه دارائي ده، چې له هغه سره ئې یوځای انکشاف موندلی دئ ، ځکه چې ذهن ، ژبه او ټولنه درې واړه سره تړلې او په ګډه سره ئې تمدن رامنځته کړی دئ، یعني ذهن هغه اختراع کړې، ټولنې انکشاف ورکړی او ژبې تقویت ورکړی دئ (پالوال، ۱۳۳۹). پښتو د افغانستان د لوی اکثریت ژبه ده. د پښتو قدامت اوپراختیا یومنلې حقیقت دئ. د ادبیاتو مستند قدامت ئې تر یو یونیم زرو کلونو بالا رسیږي او د یوې ژبې لپاره همدومره لرغونوالی بس دئ او که څوک ځان په تکلیف کا او پلټني

وکړي ممکن نور هم د دغې ژبې ادبیات او تاریخ وړاندې لاړسي. څکه له یوې خوا د لټون لار خلاصه ده او له بلې خوا کوم اشعار چې د لومړنیو اشعارو په حیث موږ پېژنو هغه ډېر پاخه او متین دي (شینواری، ۱۳۴۴). د دې ستر تاریخي اثارو په لرو سره د افغانستان تعلمي نصاب کې د پښتو مضمون ته ځای ورکړل سوی؛ ترڅو د وطن بچیان د پښتو ژبې او ادبیاتو له مضمون سره بلدتیا ومومي .

په تعلیم کې نصاب د زده کړې او تدریس د پایلو په ټاکلو کې یو مهم فکتور دئ. په ځانګړې توګه د ښوونځیو پر زده کوونکو ډېر اغېزمند واقع کیږي، ځکه دوی د سبا معماران او ټولني ته خدمت کوي. د ښووني او روزني د مختلفو سیستمونو تاریخ او څېړنه ښیي، ښوونځي د ځانګړو فکرونو او چلندونو رامینځته کولو مسؤلیت لري او داسې اتباع باید تولید کړي، چې د قانون، حکومت او ټولنیزو ارزښتونو اصولو ته غاړه کیږدي. نو ځکه خو نصاب ته د ټولني د بدلون او د ملي یووالي په رامینځته کولو کې مهم عامل ویل کیږي .

هر هیواد هڅه کوي، چې د خپلو ملي ارزښتونو او ګټو په رڼا کې د ښوونځیو له پاره داسې تحصیلي نصاب رامنځته کړي، چې د نوی نسل رزونه ئې په صحیح توګه سره تسره سي؛ ځکه نصاب بې ارزښته نه دئ (جونز، ۱۹۹۵).که څه هم د نصاب ډیزاین معمولا د یوې موخې او تخنیکي پروسې په توګه وړاندې کیږي. څېړني دا هم ښیي چې ایډیالوژي او اقتصادي ګټې د نصاب او درسي کتاب ډیزاین په چوکاټ کې لاسته راځي (Ahmad, 2004; Broadhead, 2001; Burnett, 2005; Chisholm, 2003; London, 2002; Priestley, 2002; Thaman, 2001). په ډېریو هیوادونو کې د نصاب تحلیل ښیي چې څنګه واکمن کلتورونه او ځواکونه د نصاب (یا په سمه توګه د درسي کتاب) د پراختیا لارښوونه کوي ترڅو خپله ملي ایډیالوژي منعکس کړي .

په افغانستان کې عصري زده کړې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې د حبیبیې لیسې په تاسیس سره پیل سوې. د نړۍ د اوسني معیاري سیستم (۶-۳-۳) پر سیستم برابر بنه ورته ټاکل سوې ده. یعني د ابتدایي زده کړو له پاره شپږ کاله، د منځنۍ ښوونځي له پاره درې کاله او د ثانوي یا لیسې دوره هم درې کاله قبولیت موندلی دئ (د ۱۳۵۱ ش د افغانستان معارف احصائیه, ۱۳۵۲).

د افغانستان د پوهني وزارت په چوکاټ کې اوسنی د ښوونځیو نصاب د ۲۰۰۳م کال د دسمبر له لسمې څخه بیا تر پنځلسمې پورې د معارف وزارت، د امریکا د انکشافي موسیسې(USAID) او د نوښت نړیواله ټولنې (CAII-INC) په ګډ کوربه توب اماده سوی دئ. د دې څېړني اصلي هدف او مخاطبین د پوهني وزارت اړوند د نصاب جوړونکي دي، چې د ښوونځیو په پښتو کرېکولم کې د ژبپوهنیزو موضوعاتو د کمښت اغېزې او ورڅخه زېږېدونکې ستونزې پر شاګردانو څه کېدلای سي ورته واضح سوې دي. اوسنی ښوونځیز سېلابس موږ د نړیوال زده کړېزو اصولو په رڼا کې

ارزولې دئ؛ په ځانگړې توگه د ژبپوهنې برخه ئې کتل سوې ده. پکښې سته مشکلات، نیمگړتیاوې، وړاندیزونه او نور اړین مسائل. د موضوع د ښه تحلیل له پاره مو د لومړي ټولگي څخه بیا تر دولسم ټولگي پورې د پښتو مضمون د ژبپوهنې حصه د پښتو د مسلکي ښوونکو سره د څېړنیزې مرکې له لارې ارزولې ده. د ښوونځي اوسني پښتو درسي کتابونه د یوسف دمیر او عبدالله ارتش (۲۰۱۴) لخوا وړاندیز سوي چک لېست پر بنسټ تحلیل سوی دي .

د افغانستان د نصاب اړوند پخوا هم څېړنې ترسره سوي دي، ډېری ئې د انگلیسي ژبې د کرېکولم په برخه کې ترسره سوي دي لکه (Katawazai et al., 2019; Ahmadzai et al., 2019; :
(Abdul Bari Rahmany and Mohammad Rizwan Khan, ،Mohammadi, 2020 )
(2022خو د پښتو مضمون د نصاب پر برابر تر اوسه هیڅ ډول تحقیقاتي کارونه په داخلي او دباندني کچه نه لرو.

**د څېړنې ستونزه**

ژبپوهنه ژبه تر علمي او ساینسي مطالعې لاندې نیسي. ورباندې پوهېدل د نني عصر یوه مهمه غوښتنه ده. له بده مرغه په پښتو نصاب کې دا بنسټیزه برخه خورا نادیده گڼل سوې. د ژبپوهنې عادي ابتدایي مسائل لړ خو له ډېرو تېروتنو، نیمگړتیاوو او لهجوي مشکلاتو سره مل د ښوونځي په اوسني پښتو نصاب کې راوړل سوي دي. د دې څېړنې په کومک سره به دا ستونزه حل کړل سي.

**د څېړنې ارزښت**

حاضر تحقیق به د ژبپوهنې ارزښت او په نصاب کې ئې ضرورت په دقیقه توگه وڅېړي. تر اوسه پورې د ښوونځیو پښتو نصاب ته لکه څنگه چې ښایي هغسې بیا کتنه نه ده سوې، د یوه ښه پښتو نصاب له لارې به د پښتو ژبې او ادبیاتو محصلان په پوهنتون کې له هیڅ ډول ستونزې سره نه مخ کیږي. ورسره له دې لارې به د ادبي او ژبپوهنیزو موضوعاتو ترمنځ د ښوونځي په پښتو نصاب کې سته نامساوات حل سوي واوسي .

**د څېړنې اصلي موخه**

د دې څېړنې له تر سره کولو څخه اصلي هدف دا دئ، چې د ښوونځیو اړوند پښتو نصاب د معیار سطحې ته ورسیږي. پکښې د پښتو ژبې او ادبیاتو برخې په مساویانه توگه راوړل سي. کلیشيي ژبپوهنیز مسائل په معاصرو ژبپوهنیزو موضوعاتو واړول سی.

**د څېړنې اصلي پوښتنه**

د دې څېړنې اصلي پوښتنه دا ده چې پیدا کړو چې، دښوونځي په پښتو نصاب کې د ژبپوهنیزو موضوعات نه موجودیت کومې ستونزې رامنځته کړې دي؟

په دې کې هیڅ شک نه سته، چې انساني ټولنه د علم او پوهنې په مرسته معنوي او مادي پرمختګ ته رسېدلې او رسیږي او د انسانانو اذهان د ښوونې او روزنې په سیورې کې روزل کیږي. زموږ په مبارک دین اسلام کې د تعلیم او تربیې خورا ډېر ارزښت سته؛ کله چې الله تعالی حضرت آدم علیه السلام پیدا کړ نو د هغه وجود ئې په علم سره سینګار او بهتر کړ. د نومونو په ښوولو سره ئې له ملایکو لوړ وګرځاوه. فضلیت تر هغه ځایه چې فرښتو ته ئې آدم ته د سجدې کولو امر وکړ. قرآن کریم د بل هر آسماني یا وضعي کتاب په پرتله د علم او معرفت د کلماتو په بېلا بیلو بڼو یادونه کړې؛ د علم اومعرفت ترلاسه کولو ته ئې خلګ هڅولي او د اهل علمو ستاینه ئې کړې ده (روحاني، ۱۴۰۰).

د ستر رب د بې مثل کلام له برکته اوسنی نړۍ د علم او زده کړې پر بنا د ارزښتناکو پرمختګونو په درشل کې ده. ښوونځی او مدرسه هغه سپېڅلي مقامونه دي، چې پکښې نوی نسل د علم حاصلولو خپل لومړني ګامونه اخلي. د ښوونې او روزنې مفهوم د ښوونځی تر مفهوم لوی او عام دئ. د ټولو ټولنو په ښوونه او روزنه کې نوي نسل ته د ارزښتونو لیږدونه، انفرادي او ټولنیزو ګروپونو ته د اخلاقو تفهیم، د کلتور تعمیم، کلتوری میراثونه او د کلتوری معنی ګانو سیستم او د ملتونو د عرف او رواج انتقال او تعمیل شامل وي. ښوونه پخپله یو ارزښت او هدف دئ، په خاصه توګه د معنوی اړخونو په اړه ځانګړی معناوي لری. ښوونه او روزنه د ټولنیز کیدلو د پروسې یوه برخه ده چې معنی ئې دا ده چې موږ ښنګه ټولنیز وګړي سو، تر څو په خپله ټولنه کې او له نورو ټولنو سره د ګډ اوسیدلو وړتیا پیدا کړو (منصوري، ۱۳۸۳ ). د معارف تاریخ او تعلیم و تربیه د بشر د کوښښونو او فعالیتونو د بشریي ایجاد حفاظت او ثقافت د انتقال مجموعه ده، په دې فعالیتونو کې اقتصادي وضع، صناعتي انکشاف، اجتماعي او مذهبي ژوند داخل دئ. له بلې خوا د علومو، فلسفي او صنایعو مرستې تر نظر لاندې نیسي او هم معنویاتو، قانون او د حکومت لوړتیا ښیي(پاینده محمد زهیر، داکتر سید محمد یوسف، ۱۳۳۹). د زده کړې بهیر بېله درسي کتابونو هیڅ امکان نه لري. د دانا، فیرس، جان اس او هیلډکاک په وینا "درسي کتابونه د زده کړې له پاره د ملا د تیر (ستوني فقرات) په شان اهمیت لري او د استادانو سره د تدریس پر مهال ډېر کومک کوي ."

د نړۍ هر درسي کتاب د یو خاص هدف یا نصاب په چوکاټ کې ترتیبیږي. په تعلیم کې نصاب د زده کړې او تدریس د پایلو په ټاکلو کې یو مهم فکتور دئ. په ځانګړې توګه د ښوونځیو پر زده کوونکو ډېر اغېزمند واقع کیږي، ځکه دوی د سبا معماران او ټولنې ته خدمت کوي (جونز، ۱۹۹۵). علیمیار (2015) وایي چې جان وایټ او فیلیپ اوهیر ادعا کوي چې هر هیواد باید ملي

نصاب ولري. د کوچنيانو او لويانو لپاره ښوونيز نصاب لرل په تېره بيا په پرمختيايي هيوادو کې ډېره د پام وړ خبره ده(لېوال، ۱۳۹۲) .

پوهنه چې دنده ئې دپوهنې د وزارت په غاړه ده، د يوه هيواد مغز دئ. همداسې لکه پوهنه د هيواد مغز دئ، نصاب د پوهنې مغز دئ، ځکه چې پوهنې ته هر څه چمتو کوي، نو له دې امله ئې غوره والی بايد همدومره وي (شينواری, ۲۰۱۸). نصاب ته په عربي ژبه کې المنهج الدراسي او په انګليسي کې کريکولم ورته وايي. لغتا د يوه شي يا څېز ټاکلي اندازې ته وايي ، نصاب د هغو ټولو هڅو او فعاليتونو څخه عبارت دئ، چې د مطلوبو پايلو لاسته راوړلو لپاره ور څخه کار اخيستل کيږي ، هغه که د ښوونځی يا مدرسې دننه يا بهر وي. د ښوونې او روزنې په اصطلاح هغو ټولو ټاکلو پوهنو ، مهارتونو ، او ذهنيتونو ته ويل کيږي چې يو تعليمي بنسټ خپلو زده کوونکو ته د هغو د ور زده کولو ژمنه کوي؛ همدارنګه په بله وينا: تعليمي نصاب د يو تعليمي بنسټ د تعليمي پروګرام ټولې د زده کړې وړ موضوعګانې دي چې په هغه کې درسي کتابونه ، مرستيال درسي کتابونه، د ښوونکو لارښود، د زده کوونکو له پاره د علمي کارونو موضوعات شامل وي.

آميرحبيب الله خان د حبيبيې لېسې اساس کېښود، چې په هيواد کې اولنی مکتب دئ. تر درېم ټولګی پورې پکښې لوست کېدی. ياد ښوونځی په کابل ښار کې رامنځته سو. درې درجې ئې درلودې: لومړنی، پرمختللې او عددي. د څلورم کال په لومړنيو ټولګيو کې ئې: دين، حساب، جغرافيه او ورزش مضمونونه تدريس سول. په دوهم کال کې: دين، تاريخ، ژبه (دري، پښتو، انګليسي، اردو يا ترکي) تدريسېدل ،ګرامر، مذهب، دري، جغرافيه، الجبرا، مثلث، هندسه، طبيعي حکمت، کيميا او انګريزي په دريېم کال کې ورته ويل کېدل(اصغري, ۱۳۹۰). د نړۍ د اوسني معياري سيستم (۶-۳-۳) پر سيستم برابر بڼه ورته ټاکل سوې وه. يعنې د ابتدايي زده کړو له پاره شپږ کاله، د منځنۍ ښوونځي له پاره درې کاله او د ثانوي يا لېسې دوره هم درې کاله قبوليت موندلی دئ (د ۱۳۵۱ ش د افغانستان معارف احصائيه, ۱۳۵۲). اولنی مسئول ئې قاضي عبدالقادر خان وو، چې د امير شېرعلي خان لخوا د معارف ناظم ټاکل سوی وو. وروسته د امير حبيب الله خان له لوري سردار نصرالله خان ته ياده دنده سپارل سوې ده (وردګ, ۱۳۹۵) .

د ښوونځي پر پښتو نصاب د ژبپوهنې له اړخه ارزونه او کتنه ډېره نوې موضوع ده. ارزښت او اړتيا ئې خورا زياته ده، خو له بده مرغه په دې اړوند موږ په پښتو ژبې کې کوم اثر، څېړنه يا نور څه نه لرو يوازې په ځينو مقالاتو او راپورونو کې ورته ځغلنده کتنې سوي کومې چې ستاسو سره شريکې سولې. د کتابونو ارزول او د وخت له شرايطو سره ئې عيارول خورا حياتي موضوع ده. د درسي

کتابونو د منځپانګې او د زده کړې پروسې ترمنځ اړیکه د درسي کتاب ارزونه د تعلیمي پروګرام د راتلونکي بریالیتوب لپاره اړین کار کوي (کوهداناني او نجدانصاري، 2014). د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه سي چې د پروګرام توقعات او د زده کونکو اړتیاوې په سمه توګه پوره کیږي او د دوی اغیزمنتوب ساتل کیږي، د درسي کتابونو منظم ارزونه باید ترسره سي .(Cirocki, 2010) په ښوونځي کې د زده کوونکو لپاره د مناسبو موادو د غوره کولو لپاره، موږ باید د اوسني درسي کتابونو ارزونه وکړو چې په ښوونځي کې تدریس کیږي .

Richards (2001)د کورس د کتابونو اهمیت هم په ګوته کوي او وایي چې د زده کړې هر پروګرام ممکن هیڅ اغیزه ونلري که چیرې د کورس کتابونه نه وي، ځکه چې دوی جوړښت او نصاب چمتو کوي. د درسي کتابونو د قوي او کمزورو نقاطو د پیژندلو لپاره، Richards & Renandya (2002) او Tomlinson (2003) د درسي موادو ارزونه مهمه وسیله ګڼي Richards and Renandya . (2002)د ارزونې د هدف په اړه ادعا کوي چې د ارزونې لومړنۍ موخه دا ده چې معلومه کړي چې ایا د نصاب اهداف پوره سوي او که نه. دوی زیاتوي چې بله موخه ئې د نصاب اغېزمنتوب معلومول او پخپله د ژبې پروګرام ارزول دي. د ښوونیز پروګرام لپاره د مناسب درسي کتاب د غوره کولو لپاره اداره او ښوونکي باید د درسي کتابونو ارزونه وکړي .(Azizifar, Koosha, and Lotfi, 2010) د درسي کتابونو ارزونه د تطبیقي ژبپوهنې یو فعالیت دئ چې په واسطه ئې مدیران، څارونکي ښوونکي، او د موادو پراختیا کونکي کولای سي د موادو اغیزمنتوب ځانته معلوم کړي (Tomlinson, et al 2001, p. 15). McGrath (2002)ادعا کوي چې د درسي کتاب ارزونه د ژبې د زده کړې پروګرامونو د اداري او پراختیا لپاره یو مهم کار دئ.

د افغانستان د معارف وزارت اړوند د ښوونځي نصاب ډېر څېړل او ارزول سوی نه دئ. خورا زیات مسائل لري چې باید وربانديي پراخ تحقیق ترسره سي. د انګلیسي مضمون اړوند موږ څو نړیوالې مقالې لرو، چې په نړیوالو ژورنالونو کې چاپ سوي دي. د هغو له جملې څخه ئې (Katawazai et al., 2019; Ahmadzai et al., 2019; Mohammadi, 2020; Rahmany et al., 2022; Chisholm, 2003; Adele,2007; Alimyar, 2014; Haidari, 2020; Anwari, 2019; & Rahim et al., 2019)د یادونې وړ دي، چې ښوونځیو او پوهنتونو د انګلیسي ژبې د ژبپوهنې پر نصابونو ئې څېړنې ترسره کړې دي. د ټولو غورچاڼ پر درو نقاطو را نغاړو: لومړی په ښوونځیو کې د انګلیسي ژبې د تکړه ښوونکو نسته والی، دوهم د معیاري درسي کتابونو نه موجدیت، دریم د دې ژبې د تدریس لپاره د اغیزمنو ستراتیژیو نسته والی.

د دې څېړنې پر مټ به د پښتو ژبې نصاب تقویت ومومندي او د معاصري ژبپوهنې اړین علم به ارزښت پیدا کړي. ورسره به د هغو شاګردانو او محصلانو ستونزې حلې سوې واوسي، چې د کانکور

له لارې د پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګې ته بریالي کیږي؛ ځکه چې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي اړوند د پښتو ژبې او ادبیاتو څانګه په خپل نصاب کې د ژبپوهنې ډېر لوړ مسائل لري چې په ښوونځیو کې ورسره زده کوونکي اشنایي و نه لري په ستونزو کې لویږي.

## مواد او کړنلاره

د زده کړې بېلا- بېل مېتودونه، سېلابس یا کرېکولم ترتیبول، درسي توکي او نور تعلیمي مسائل د اغېزمنې زده کړې اساسي ټکي جوړوي. په افغانستان کې د پوهنې وزارت اړوند د ښوونځیو عمومي نصاب کلونه- کلونه کیږي، چې لاس ناخوړلی پاته دئ؛ په داسې حال کې چې هر کرېکولم باید په درو کلونو کې بدلون ومومي. د ښوونځي پښتو نصاب د ژبپوهنې له اړخه دلته څېړل سوی، پر علتونو او ورڅخه د پېښېدونکې ستونزو باندې د بېلا بېلو مېتودونو او کړنلارو په کومک خبرې سوې دي. یاده موضوع و پراخې څېړنې ته اړتیا لري، ځکه یو نصاب د ټول هیواد له پاره جوړېږي، خو د امکاناتو د نه موجودیت له کبله ما یوازې د کندهار د ژبپوهنې مسلکي استادان ټاکلي دي.

**معلومات را ټولونه**

د څېړنې کمیتي ډاټا د راغونډولو پروسه د یوسف دمیر او عبدالله ارتش (۲۰۱۴) لخوا وړاندیز سوي چک لېست پر بنسټ ترسره سوې ده. پدې څېړنه کې څېړونکې د غیر سروې څېړنې ډیزاین کارولی دئ. د براون (2001) له انده د یوې موضوع په تړاو د معلوماتو د راټولولو له پاره د نوو طریقه کار معرفي کولو مخکې باید یوار موجوده غیر سروې ډاټا (non-survey) مطالعه کړو. یعنې موږ کولای سو، له منل سوو څېړنیزو چک لېستونو، علمي تحلیلونو، مخکنې څېړنو ته په کتو او نورو موجوده لارو څخه د مسائلو سروې او ارزونه ترسره کړو. وړاندیز سوی چک لېست په څلورو برخو کې ۵۶ توکي لري. د څېړنیزو پوښتنو له پاره روښانه او واضح مسائلو ته پکښې اولیت ورکول سوی دئ. پېچلي او درانه کلمات نه لري او د مرکبو جملو په عوض ساده جملات کاروي (Dörnyei & Taguchi, 2010).

**اسباب(Instruments)**

د کرسول (2012) په وینا، د څېړنې انسټورمېنټ د ارقامو اندازه کولو، مشاهده کولو، یا مستند کولو لپاره اړین وسایل دي. په دې څېړنه کې کمیتي معلومات د دمیر چک لېست له لارې برابر سوي دي.

**چک لېست**

د دې تحقیق له پاره د ارزونې یو لېست غوره سوی دئ. یاد چک لېست د یوسف دمیر او عبدالله ارتش (۲۰۱۴) لخوا کشف سوی. د کورس کتاب ارزونې چک لیست پر څلورو حصو، چې

عبارت له: مضامین او مطالب(Subjects & Contents) ، فرعي او اصلي مهارتونه (Sub-skills & Skills)، ترتیب او فزیکي جوړښت (Layout & Physical Make-up) او علمي ملاحظات (Practical Considerations)وېشل سوی دئ. په عمومي توگه پکښې ۵٦ پوښتنې ځای کړل سوي دي. د هر سوال جواب ته د (هو) او (نه) انتخاب ورکړل سوی دئ. موږ د ښوونځي پښتو نصاب عالي دوره ورباندي ارزولې ده.

### د معلوماتو تحلیل

د کمیتي ډاټا د تحلیل له پاره دلته Descriptive Analysis Methodکارول سوی دئ. گراویټر او والنوو (۲۰۱٦) توضیحي مېتود داسي یو طرزالعمل بولي، چي په واسطه ئې د معلوماتو لنډیز، تنظیم او ساده کول ترسره کیږي. تشریحي تحلیل کي فریکونسي، فیصدي، جدولونه، گرافونه او چارټونه شامل دي .

## د خېړني موندني

اوسنۍ څېړنه د Demir او) Ertaş ۲۰۱۴ (له خوا د کشف سوي چک لېست پر مټ ترسره سوې ده. د ژبو او ادبیاتو په برخه کي د بېلا بېلو ارزونکي وسیلو په مرسته داسي یو انتخابي چک لېست دي، چي مواد ئې له مختلفو برخو څخه را اخیستل سوي دي. د کورس کتاب ارزوني چک لېست پر څلورو حصو، چي عبارت له: مضامین او مطالب (۱۰ توکي)، فرعي او اصلي مهارتونه (۲۵ توکي)، ترتیب او فزیکي جوړښت (۷ توکي) او علمي ملاحظات (۱۴) وېشل سوی دئ. په عمومي توگه پکښې ۵٦ پوښتنې ځای کړل سوي دي. پر دې سربېره په اخر کي یوه اضافي خالي برخه لري، چي که چیري کوم بالابود معلومات وي هلته ئې لیکلای سئ. د پوښتنلیک د اعتبار ازموینې له پاره د Cronbach's Alpha اعتبار(Reliability) احصایه ترسره سوې. د فیلډ (2013) په وینا که چیري د کرونباخ الفا ارزښت له 0.7 څخه پورته وي دا یوه ښه او د باور وړ ډاټا سیټ گڼل کیږي. د احصایي اعتبار تحلیل وښودله چي یاد چک لېست یا پوښتنلیک (۰،۹۱) سره په مناسب ډول د اعتبار وړ دئ، لکه څنگه چي په لاندي جدول(۱) کي لیدل کیږي.

۱- جدول د څېړني Reliability Statistics

| د اعتبار احصایه | |
|---|---|
| د ارزونکو توکي شمېر | Cronbach's Alpha |
| ۵٦ | ۰،۹۱ |

د دمير (۲۰۱۴) چك لېست اړوند Ersoz (n.d.) وايي كه د هو (Yes) ځوابونو شمېر له 80٪ څخه ډېر وي كتاب ستاسو د وضعيت لپاره مناسب دئ؛ كه د 60-80٪ ترمنځ وي، دا كتاب كارول كېدلای سي، خو منل ئې بايد د ټولو په اجازه وي. د 60٪ څخه كم حالت هيڅ مناسب نه دئ.

**د عالي دورې نصاب ارزونه**

په لاندي جدول (۲) كي د ښوونځي د پښتو نصاب د عالي دورې (له لسم ټولګي څخه بيا تر دوولسم ټولګي پوري) برخه راوړل سوې ده، چي د چك لېست مضامين (Subjects) او مطالب (Contents) پوښتنو ته پكښي جوابونه ويل سوي دي.

**۲- جدول د مضامينو او مطالبوچيک ليست**

| مضامين او مطالب (Subjects & Contents) | هو | نه |
|---|---|---|
| ايا محتوا د هدف ژبي كلتوري زده كړي ته لاره پرانيزي؟ | √ | |
| ايا د كورس كتاب موضوع او محتوا په زړه پوري دي؟ | | √ |
| ايا د كورس كتاب محتوا و نو زده كړو ته لاره هواروي؟ | √ | |
| ايا د كورس كتاب موضوع او محتوا هڅونكي دي؟ | | √ |
| ايا موضوعي محتوا د زده كونكو لپاره د پوهيدو وړ ده؟ | | √ |
| ايا د كورس كتاب په محتوا كي كافي رنګارنګي سته؟ | √ | |
| ايا موضوعي محتوا له كلتوري پلوه مناسبه ده؟ | √ | |
| آيا موضوعات او متنونه له هر ډول تبعيض (جنسيت، نژاد او نور) څخه پاك دي؟ | √ | |
| ايا د كورس كتاب محتوا او د حقيقي ژوند شرايطو (ټولنه) ترمنځ اړيكه سته؟ | | √ |
| ايا د كورس په كتاب كي موضوعات او متنونه دواړه د محلي او هدفي كلتور عناصر برخه دي؟ | | √ |

په پورته جدول کې مشاهده کیږي، چې د پوهنې وزارت اړوند د ښوونځي له پاره په پښتو نصاب کې د دمیر د چک لېست په لسو پوښتنو کې پنځه مثبت او پنځه منفي جوابونه ترلاسه سوي دي.

عالي دوره د ښوونځي خورا اساسي برخه تشکیلوي، په دې وخت کې زده کوونکي د عمر او فکر پر برابر زده کړې ته اماده وي او د خپل ښه راتلوونکي په فکر کې وي.

د چک لېست په مثبتو ځوابونو کې (محتوا د هدف ژبې کلتوري زده کړې ته لاره پرانیزي، د کورس کتاب محتوا و نو زده کړو ته لاره هواروي، د کورس کتاب په محتوا کې کافي رنګارنګي سته، موضوعي محتوا له کلتوري پلوه مناسبه ده او موضوعات او متنونه له هر ډول تبعیض (جنسیت، نژاد او نور) څخه پاک دي. باید د یوې ژبې خاص کلتوري او اصلي فرهنګي خوا روښانه او ذکر کړل سي. افغانستان لرغونی اسلامي او افغاني فرهنګ لري؛ په ښوونیز نصاب کې اصلي اسلامي او افغاني فرهنګي موضوعات د پام وړ دي. د کورس په کتاب کې کافي بېلوالی سته ټولنیز، ادبي، مذهبي او ځیني سیاسي مسائل راوړل سوي دي. عمومي د تبعیض اړوند څه نسته، خو په متن کې په قصدي شکل د خورا ډېرو غلطیو سره مل د یوې سیمې لهجوي لیکدود ځای کړل سوی دئ. د کتاب محتوا له حقیقي ژوند سره تړاو نه لري. موضوعات تر ډېره کلیشه یي شکل لري. په ثانوي دورې کې د ادبیاتو او ژبپوهنې ډېرې موضوعات د زده کوونکو تر سویې لوړ راوړل سوي دي. په ځانګړې توګه د ژبپوهنې اړوند د ګرامر ډېرې مسائل دلته راوړل سوي دي؛ کوم چې باید په لیسانس دورې کې ورته تدریس سوي وای. په مجموعي شکل دا برخه تر ٦٠ سلنې ډېره کمه فیصدي مثبت ځوابونه لري چې په هیڅ صورت کې د چلښت او منښت قابلیت نه لري.

په دریم جدول کې د ښوونځي د پښتو نصاب د عالي دورې (له لسم ټولګي څخه بیا تر دوولسم ټولګي پورې) ارزونه د چک لېست دوهمه برخه یعنې اصلي او فرعي مهارت اړوندي پوښتنې تشکیلوي؛ چې پکښې ۲۵ سوالونو ته جوابونه ویل سوي دي.

**۳- جدول: د ثانوي دورې اصلي او فرعي د ژبې زده کړېز مهارتونه**

| اصلي او فرعي مهارتونه (Skills and Sub-Skills) | هو | نه |
|---|---|---|
| لوستنه (Reading) | | |
| ایا د لوستلو درک ښه کولو لپاره کافي او مناسب تمرینونه او کورنی دندنې لري؟ | √ | |

| | | |
|---|---|---|
| په نصاب کې په پراخه کچه د لوستلو له پاره بېلا بېل محتوا لرونکي متونه سته؟ | √ | |
| ایا د لوستلو په برخه کې اصلي ژبه کارول سوې؟ | | √ |
| اورېدل (Listening) | | |
| ایا د کورس کتاب د ښه اوریدلو دندي او ټاکل سوي اهداف لري؟ | | √ |
| ایا د اوریدلو مواد په ښه توګه ثبت او مستند دي؟ | | √ |
| ایا د اوریدلو مواد د شاګردانو له پاره اشنا او شالید لري او داسي پوښتني او فعالیتونه لري، چي په پوهېدو کي مرسته وکړي؟ | | √ |
| **خبري کول** (Speaking) | | |
| ایا د کورس په کتاب کي د وینا شرایط د شاګردانو له معلوماتو سره سم شامل دي؟ | | √ |
| د اصلي او درسي موضوعاتو تر پیل مخکي ګټور محاوریز فعالیتونه سته؟ | | √ |
| ایا د انفرادي او ګروپي سرګرمیو برخه نصاب لري؟ | √ | |
| **لیکل** (Writing) | | |
| ایا د مختلف ژانرونو لپاره ماډلونه یا شکلونه چمتو سوي؟ | √ | |
| ایا د زده کونکو د وړتیا مطابق هدفي موخي او تمرینات نصاب لري؟ | √ | |
| په لومړني پړاونو کي لارښودي جوړښت او تمرینونه چمتو سوي دي؟ | √ | |
| **لغتونه** (Vocabulary) | | |
| ایا د شاګردانو د سويې مطابق د کلماتو حجم مناسب راوړل سوي؟ | | √ |

| | | |
|---|---|---|
| ایا په نصاب کې د لغتونو وېش (ساده او پیچلي) برابر دئ؟ | | √ |
| ایا د کلماتو تمرین د پخواني اوسني زده کړیزو توکو د پوهېدني پرمختګ سبب ګرځي | | √ |
| ایا نوي لغتونه په راتلونکو درسونو کې تکرار سوي، چې د دوی معنی او کارول پیاوړي کړي؟ | | √ |
| ایا نوې لغتونه په مختلفو شرایطو کې مدغم سوي؟ | | √ |
| **پښویه** (Grammar) | | |
| ایا ګرامري ټکي اسانه او د لنډو مثالونو او توضیحاتو سره وړاندي سوي؟ | | √ |
| د ګرامر ابتدایي ساختماني توکو او جوړښتونو له پاره د تعامل او اړیکي لاره سته؟ | | √ |
| ایا ګرامري جوړښتونه په تدریجي ډول پیچلتیا موندي ترڅو مناسب وي او د زده کونکو د لوستلو وړتیا وده وکړي؟ | | √ |
| ایا نوي ګرامري جوړښتونه په سیستماتیک ډول د سویې مطابق وړاندي کېږي؟ | | √ |
| ایا ګرامري موضوعات په ارتباطي شکل د نوي او پخواني درسونو سره راوړل سوي؟ | | √ |
| **تلفظول** (Pronunciation) | | |
| ایا د خج، اهنګ، طرز او نور پروسوډیکي عناصرو د پېژندني له پاره کافي معلومات موجود دي؟ | | √ |
| ایا د تلفظ اداء کولو مسائل په نوي او پخواني درسونو کې ربط لري؟ | | √ |

په پورته ډول کې موږ د ژبې زده کړې اصلي او فرعي مهارتونه اول په اوو برخو کې کتلای سو؛ چې عبارت له: لوستل، ليکل، اورېدل، ويل، لغتونه، ګرامر او تلفظ څخه دي. دا ټول ۲۵ ارزونکې توکي لري. دلته به ئې يو په يو تشريح کړو .

**لوستل**: دا برخه د ژبې زده کړې يوه اساسي برخه تشکيلوي. شاګردان د بېلا بېلو مېتودونو په کومک تشويقوي، چې د لوستلو مهارت ئې قوي سي. په (۳) جدول کې د ثانوي دورې د پښتو نصاب دا برخه درې پوښتنې ترسره کړې دي، چې پکښې دوې ئې مثبت او يوه ئې منفي جواب سوې ده. د ثانوي دورې کرېکولم په خپل جوړښت کې د پام وړ تمرينات، کورنۍ دندې او د لوستلو له پاره مختلف محتوا لرونکې موضوعات لري. يوازې ئې په متن کې کارول سوې ژبه تر ډېره لهجوي مبهميزه ستونزه لري. په لاندې جدول کې ئې فيصدي ګورو، چې تر شپېته سلنه اوړي يعني دا برخه هم سمه ده، خو عمومي موافقې ته اړتيا لري.

**اورېدل:** دا هم د ژبې زده کړې له اړينو مهارتونو څخه ګڼل کيږي، چې پکښې د شاګردانو پر اورېز مهارت توجه کوي. د افغانستان د ثانوي دورې پښتو ښوونيز نصاب په دې برخه کې (۳ جدول) د دمير د چک پر اساس له درو پوښتنو څخه يو هم مثبت جواب نه لري. په نوره نړۍ کې درسي کتابونه په بړغيز شکل هم ثبتيږي او پکښې شاګردانو ته لارښوني او تمرينات لري، خو اوسنی نصاب هيڅ کوم داسې څه په ځان کې نه لري. دا په دې معنی چې دا برخه صفر سلنه ده او هيڅ د قبول وړ نه ده.

**خبري کول:** محاوره او وينا کول د ژبې بل مهم سکېل يا مهارت بلل کيږي. د ښوونځي ثانوي دورې نصاب مو په دې برابر هم ارزولی دی. چې په پايلې کې (۳- جدول) ئې يوازې د ګروپي او انفرادي برخو ځيني فعاليتونه مثبت جواب سوي، خو په کتاب کې د شرايطو سره برابر معلومات او داسې ګټور محاوريز فعاليتونه نسته، چې ورباندې دې د زده کوونکو د خبري کولو مهارت تقويت ومومندي. دابرخه هم د فيصدۍ له لحاظه تر شپېتو کمه ده او د قناعت وړ نه ده.

**ليکل:** په اصلي او فرعي مهارتونو کې بله بنسټېزه موضوع د ليکلو وړتيا راځي. د پښتو نصاب دلته له درو پوښتنو سره مخ کيږي، تاسو په (۳- جدول) کې وينئ چې پکښې دوه ئې مثبت او يو ئې منفي جواب لري. د زده کوونکو د وړتيا مطابق هدفي موخې او تمرينات په ابتدائيه دروې کې پر هيڅ حساب دي، خو په ورته مهال کې بيا د مختلفو ژانرونو له پاره رقم رقم ماډلونه، شکلونه او

لاربښودي سرګرمۍ سته، چي په توسط ئې د لیکلو برخه قوت مومي. دا حصه تر شپېتو سلنه لوړ نمرې اخلي، خو منل ئې موافقې ته ضرورت لري.

**لغتونه:** دا خورا اساسي بحث، څکه دئ چي زموږ د څېړني اصلي موخه او پکښې سته ستونزې بیانوي. د لغتونو برخه پنځه اړین مسائل پوښتلي دي. تاسو په (۳- جدول) کي جوابونه وینئ، چي ګرده منفي ورکړل سوي دي. یعني د شاګردانو د سویې مطابق د کلماتو حجم مناسب راوړل، په نصاب کي د لغتونو وېش (ساده او پیچلي) برابر، د کلماتو تمرین د پخواني اوسني زده کړیزو توکو د پوهېدني پرمختګ سبب ګرځي، نوي لغتونه په راتلونکو درسونو کي تکرار سوی او نوي لغتونه په مختلفو شرایطو کي مدغم سوي. مذکوره ټول سوالونه د ژبپوهني اړوندیزې، چي له بده مرغه د ثانوي دورې نصاب ورته هیڅ جواب نه لري. معلومدار چي دا حالت د منلو نه دئ او نتیجه ئې صفر ده.

**پښویه:** ګرامر د ژبپوهني اړینه څانګه ده، چي په خپل ذات کي دوه مسائل څېړي: اول صرف او دوهم نحوه. صرف د یوې ژبي لغوي جوړښتونه او پکښې راغلي تغیرات مطالعه کوي. نحوه د یوې ژبي د جملو جوړښت او هغه توکي را پېژندي چي یوه جمله ورڅخه رغیږي. د ارزښت له لحاظه ورباندي خورا ډېر بحث کېدلای سي او د نړۍ ټولي ژبي څانته علیحده ګرامري سیستم لري. زده کړه ئې کابو پر ټولو لازمه وي او په خاصه توګه بیا چي یو څوک غواړي بله ژبه زده کړي نو اول ئې پښویي ته مراجعه کوي. د ثانوي دورې پښتو نصاب دا حصه هم ارزول سوې ده. تاسو په (۳) جدول کي کتلای سئ، چي پکښې ټولو پوښتنو (ایا ګرامري ټکي اسانه او د لنډو مثالونو او توضیحاتو سره وړاندي سوي، د ګرامر ابتدایي ساختماني توکو او جوړښتونو له پاره د تعامل او اړیکي لاره سته، ایا ګرامري جوړښتونه په تدریجي ډول پیچلتیا موندي ترڅو مناسب وي او د زده کونکو د لوستلو وړتیا وده وکړي، ایا نوي ګرامري جوړښتونه په سیستماتیک ډول د سویې مطابق وړاندي کیږي او ایا ګرامري موضوعات په ارتباطي شکل د نوي او پخواني درسونو سره راوړل سوي) ته منفي جوابونه ورکړل سوی دي.

سته مطالب ډېر ګونګ، د زده کوونکو له سویې بالا، پیچلي او غیري لازم راوړل سوي دي. دا حالت د زده کوونکو پر زده کړې او مورنۍ ژبه ته په خدمت کولو منفي اغېزې کوي او ورڅخه ئې خواتوری کوي. ورسره ژبه کرار-کرار د مړه کېدو خوا ته ځي. روښانه چي دا وضعیت باید بدلون ومومي. د پښتو مضمون اوسنی نصاب ته د دمیر چګک لېست هیڅ نمرې نه ورکوي.

**تلفظول:** د ژبي زده کړې له فرعي مهارتونو څخه بلل کيږي. زده کوونکي بايد د کلمات او جملاتو د تلفظ صحيح درک او موجوده اصول او اړخونو ته پکښي پاملرنه وکړي .
د ژبپوهني په څانگو کي فونولوژي او نحوه ورته ځانگړې بحثونه لري. په بړغپوهني کي د عروضي توکي يا پروسوديکه فونولوژي تر عنوان لاندي مسائل لري، چي پکښي خج، اهنگ، څپه، فصل وصل او داسي نور څه دي. نحوه هم د جملو په بيان او درک ورڅخه کار اخلي .
په دې چک لېست کي د تلفظ له پاره دوې پوښتني سته. تاسو (۳) جدول وينئ، چي دواړه سوالونه مثبت جوابونه نه لري. په دې حساب دوی هم صفر سلنه خپلوي.
په( ۴) جدول کي د ښوونځي د پښتو نصاب د ثانوي دورې (له لسم ټولگي څخه بيا تر دوولسم ټولگي پوري) ارزونه د چک لېست دربيمه برخه يعني ترتيب او فزيکي جوړښت (Layout & Physical Make-up) اړوندي پوښتني تشکيلوي؛ چي پکښي ۷ سوالونو ته جوابونه ويل سوي دي.

۴- جدول: د ثانوي دورې ترتيب او فزيکي جوړښت ارزونه

| ترتيب او فزيکي جوړښت (Layout & Physical Make-up) | هو | نه |
|---|---|---|
| ايا نصاب په زړه پوری او شاگردانو ته دلکشه ښکاري؟ | √ | |
| ايا د کتاب د هر فصل له پاره ځانگړې تفصيلي کتنه لري؟ | | √ |
| ايا د کورس کتاب د ترتيب، ډيزاين او تنظيم په برخه کي د زده کونکو ترجيح منعکس سوې؟ | | √ |
| ايا نصاب په کافي اندازه عکسونه، ډياگرامونه او جدولونه چي د زده کونکو سره د متن په پوهېدو کي مرسته وکړي؟ | √ | |
| ايا د کورس کتاب انځورونه معلوماتي او فعال دي؟ | | √ |
| ايا د کورس کتاب اندازه او وزن د زده کونکو اداره کولو له پاره مناسب ښکاري؟ | | √ |
| ايا د چاپ کيفيت لوړ دئ؟ | √ | |

په پورته جدول کي موږ د درسي نصاب د ترتيب او فزيکي جوړښت اړوند پوښتنو ورکړل سوي جوابونه کتلای سو. په دې سوالونو تر ډېر د کتاب پر دباندی جوړ، کيفيت، حجم او پکښي راغلي انځورونه او نور مسائل مطرح سوي دي. په اوو پوښتنو کي درې جوابونه مثبت راغلي او پاته څلور ئې منفي دي. د ثانوي دورې د پښتو کتاب په خورا ښه کيفيت چاپ سوی دئ. ښه په زړه پوري رنګه عکسونه، جدولونه او معلومات تنظيم سوي دي، په دې حساب ئې مثبت نمرات اخيستي دي.

دا چي د شاګردانو د لا ښه دلکښي او مقبوليت باعث وګرځي په دې منظور د زده کوونکو نظرسنجي نه ستة، په کتاب کي و هر فصل ته منظمه تشريحي کتنه نسته، د نړيوال معيار پر اساس ټاکل سوی حجم نه لري او پوهنيز انځورونه ئې تر ډېره پوري معاصريت نه لري په دې برخو کي ورته منفي جوابونه ورکول سوي دي. څکه نو فيصدي شپېته سلنه نه پوره کوي او د دمير چک لېست په حساب دا کتاب د منلو وړ نه دئ.

په پنځم جدول کي د ښوونځي د پښتو نصاب د ثانوي دورې (له لسم ټولګي څخه بيا تر دوولسم ټولګي پوري) ارزونه د چک لېست اخري برخه يعني او علمي ملاحظات ( Practical Considerations) اړوندي پوښتني تشکيلوي؛ چي پکښي ۱۴ سوالونو ته جوابونه ويل سوي دي.

۵- جدول: د ثانوي دورې د علمي ملاحظاتو ارزونه

| علمي ملاحظات (Practical Considerations) | هو | نه |
|---|---|---|
| ايا د کورس کتاب معاصر او د وخت سره سم دئ (بايد له چاپه ئې لس کاله نه وي اوښتي)؟ | | √ |
| ايا د کورس کتاب په اسانی سره د لاسرسي وړ دئ؟ | | √ |
| ايا د کورس کتاب په مناسب نرخ دئ؟ | √ | |
| ايا د کورس کتاب له څانه سره اضافي توکي؛ لکه: سي ډي، ډاټا او نور څه هم لري؟ | | √ |
| ايا درسي نصاب برېښنايز مواد لري، لکه انلاين تدريس، ازموينې او برېښنايزه زده کړه. | | √ |
| ايا کتاب د زده کړې مختلف سټايلونه او ستراتيژياني په ګوته کوي؟ | | √ |

| | | |
|---|---|---|
| ایا د ژبې زده کړې ارتباطي مېتود (Communicative Language Teaching) له پاره لازم تمرینات او فعالیتونه ترسره کیږي؟ | √ | |
| په کورس کتاب کې د ځان ارزونې برخه شامله ده؟ | √ | |
| ایا د ژبې زده کړې مېتودونه (ELT) کارول کیږي؟ | | √ |
| ایا د اوسني نصاب طرز او ډیزاین د زده کوونکو له پاره مناسب دئ؟ | | √ |
| ایا کتاب له ښوونځي دباندې په انفرادي توګه د ټیکنالوژۍ پر مټ لوستل او مطالعه کېدلای سي؟ | | √ |
| ایا د کورس کتاب د نصاب له اهدافو سره سمون لري؟ | | √ |
| ایا اهداف په واضح ډول د کورس په کتاب کې مشخص سوي دي؟ | √ | |
| ایا د کورس کتاب د زده کوونکو اجتماعي او تاریخي حالت ته پام سره ډیزاین سوی دئ؟ | | √ |

په پورته ډول د دمیر چک لېست د اخري برخې په کومک د ثانوي دورې پښتو مضمون ارزونه کتلای سو. دا برخه د علمي ملاحظاتو ارزونه کوي. و ۱۴ پوښتنو ته پکښې جوابونه ورکول سوي دي .

د نصاب له پاره نړیوال معیار دا دئ، چې باید هر درې کاله وروسته بیا ورباندې کتنې وسي او د ضرورت په اندازه پکښې زیاتوني او کموني راوستل سي، خو له بده مرغه د افغانستان نصاب له تېرو پنځلوسو کالو راهیسې لاس ناخوړلی پاته دئ. په (۵) جدول کې اوله پوښتنه هم په همدې تړاو ده، چې پکښې اوسنی نصاب منفي جواب اخلي. ورسره بل اصل د کتابونو لاسرسی دئ، باید هر زده کوونکی کتاب ولري؛ خو د پوهني وزارت اړوند کتابونه د کمښت سره مخ دي او په دې ترتیب جواب نه دئ. ورسره جوخت په بازار کې بیا په پیسو موندل کېدلای سي؛ که څه دا غیري قانوني

عمل ځکه د معارف کتابونه وړیا دي. د اداري فساد په ترڅ کې بیاهم کتابونه په مناسب نرخ پلورل کیږي. نو د چک لېست دریيمه پوښتنه مثبت جواب لري.

د اوسني کورس کتاب سره زده کړیز صوتي او تصویري توکي، په انلاین شکل تدریس، تمرینات او د مختلفو ستراتیژیو پر مټ تدریس اړوند پوښتل سوي سوالونه منفي جواب اخلي، ځکه په دې اړوند د ثانوي دورې پښتو مضمون څه نه لري. د ژبې زده کړې مېتودونو او د درس په پای کې د تمریناتو په واسطه ارزوني اړوند پوښتني د هو جواب ترلاسه کوي.

د نصاب له پاره ټاکل سوي اهداف او د کتاب موضوعات ، د ELT مېتودونه، له ښوونځي دباندې په انفرادي توګه زده او د نصاب طرز او ډیزاین د زده کوونکو له پاره پوښتني منفي جواب لري. په دې ټولو برخو کې زیاتي ستونزي لیدل کیږي. د مثال په توګه: په کتاب کې اهداف د پښتو ژبې د ګرامر مطالعه او زده کړې وي، خو دوی ورته د شرابو زیانونه، ټوکې او ټکالي او بعضې اجتماعي مسائل راوړي دي؛ ولي د ژبپوهني عناوین نه لري. یعني اهداف ئې لیکلي وي، خو راخیستي ئې نور څه وي. د چک لېست اخري پوښتنه (ایا د کورس کتاب د زده کوونکو اجتماعي او تاریخي حالت ته پام سره ډیزاین سوی دئ؟) هم منفي جواب لري. په ثانوي دورې کې باید د کوچنیانو د سویې مطابق په ټولنیز او تاریخي لحاظ مسائل مطرح کړل سي، خو برعکس دلته دا اصل نه دئ مراعت سوی. د بشر حقوق، سیاست، غیري منطقي تراو لرونکي نړیوال بحثونه او د ملي قهرمانانو تر نامه لاندې محلي قوماندان د کوچنیانو په اذهانو کې پېچکاري کیږي. په داسې حال کې چې دا برخه باید د پښتو ادبیات او ژبپوهني په مسائلو نیولی سوي وای .

د فیصدی په لحاظ د عملي ملاحظاتو برخه هم تر شپېتو سلني کمه ده، چې د منلو قابلیت نه لري.

**د ثانوي دورې د علمي ملاحظاتو ارزونه:**

د دمیر (۲۰۱۴) چک لېست اړوند Ersoz (n.d.) وایي که د هو (Yes) ځوابونو شمېر له 80٪ څخه ډېر وي کتاب ستاسو د وضعیت لپاره مناسب دئ؛ که د 60-80٪ ترمنځ وي، دا کتاب کارول کېدلای سي، خو منل ئې باید د ټولو په اجازه وي. د 60٪ څخه کم حالت هیڅ مناسب نه دئ. د ارزوني په پایلې کې د چک لېست په څلورو برخو او ۵۶ توکو کې اکثریت شمېر جوابونه منفي موندل سوي، یعني اوسنی د ښوونځي پښتو نصاب و جدي بدلون او اصلاح ته ضرورت لري.

## مناقشه

د کتاب ارزوني چک لیست پر څلورو حصو، چي عبارت له: مضامین او مطالب (۱۰ توکي)، فرعي او اصلي مهارتونه (۲۵ توکي)، ترتیب او فزیکي جوړښت (۷ توکي) او علمي ملاحظات (۱۴) وېشل سوی دئ. په عمومي توگه پکښي ۵۶ پوښتني ځای کړل سوي دي. پر دې سربېره په اخر کي یوه اضافي خالي برخه لري، چي که چیري کوم بالابود معلومات وي هلته ئې لیکلای سئ. د یاد چک لېست د احصایې اعتبار تحلیل د کرونباخ الفا مېتود له رویه (۰،۹۱) دئ.

د چک لېست اوله برخه مضامین (Subjects) او مطالب (Contents) د لسو سوالونو سره ترتیب لري، چي تر تحلیل وروسته معلومه سوه، چي د پښتو مضامینو نصاب تر ۶۰ سلنې کم مثبت جوابونه لري؛ یعني یوازي درې مثبت ځوابونه ترلاسه او باقي اوه پوښتني منفي وضعیت لري. د دمیر (۲۰۱۴) چک لېست اړوند (Ersoz (n.d. وایي که د هو (Yes) ځوابونو شمېر له 80٪ څخه ډېر وي کتاب ستاسو د وضعیت لپاره مناسب دئ؛ که د 60-80٪ ترمنځ وي، دا کتاب کارول کېدلای سي، خو منل ئې باید د ټولو په اجازه وي. د 60٪ څخه کم حالت هیڅ مناسب نه دئ. په دې لحاظه د مطالبو او مضامینو حصه ئې په هیڅ صورت د چلښت او منښت قابلیت نه لري. په دې برخه کي (Salehi & Amini, 2016; Torki & Chalak, 2017) د اوسني موندني همنظري دي او زیاتوي، چي نصابونه باید هر وخت د تعدیل او نوي کولو پروسه ولري.

د دمیر چیک لیست دوهمه برخه د اصلي او فرعي مهارت اړوندي پوښتني لري؛ چي پکښي ۲۵ سوالونو ته جوابونه ویل سوي دي. د ژبي زده کړي اصلي او فرعي مهارتونه په۷ څانگو کي وېشل سوي دي؛ چي عبارت له: لوستل، لیکل، اورېدل، ویل، لغتونه، گرامر او تلفظ دئ (Katawazai et al., 2019)). په یوې څېړني کي د ښوونځي د نهم ټولگي د انگلیسي مضمون اړوند لغتونه، گرامر او تلفظ برخه د همدې چک لېست په مرسته ترسره کړې ده. د دوی موندني ښیي، چي په ټاکل سوي درسي کتاب کي د لغتونو د متناسب استعمال، سیستماتیک نمایش او د گرامري جوړښتونو کافي توضیحات او د تلفظي تمریناتو او فعالیتونو مناسب استعمال شتون نه لري. سربېره پر دې زیاتوي، چي درسي کتاب د انگلیسي ژبي فرعي مهارتونه په مناسب ډول ودي، سمون او پرمختگ ته اړتیا لري په ځانگړې توگه د گرامر او تلفظ برخه. عبدالباري رحماني او محمد رضوان خان (۲۰۲۲) د ثانوي دورې انگلیسي مضمون نصاب ارزولی دئ. د دوی موندني هم د ژبپوهني اړوند ورته نظریات لري. د دوی په باور په انگلیسي نصاب کي د اورېدلو مهارتونه ځای سوی، خو د

ګرامر اړوند موضوعات ډېر لږ او نفي سوي دي. زموږ په څېړني کي هم د ابتدائیه، منځنی او ثانوي دروې اړوند د پښتو مضامینو کرېکولم تر ارزولو وروسته وموندل سول، چي نصاب ډېري ستونزې لري او عمومي د مثبتو ځوابو فیصدي تر شپېتو سلني ډېره کښته ده، چي د دمیر (۲۰۱۴) چک لېست اړوند Ersoz (n.d.) د نظریي پر اساس تر ٦٠ سلني کښته حالت هیڅ مناسب نه دئ.

د ارزوني لېست دریيمه برخه ترتیب او فزیکي جوړښت جوړوي. دا جدول اوه پوښتني لري. چي د بحث محتوا ئې د نصاب پر حجم، جوړښت، جذابیت، د چاپ کیفیت او نورو راګرځي. درسي کتاب باید د نورو ځانګړو سره دلکشه ډیزاین، په زړه پوری، په ښه کیفیت چاپ، معلوماتي مرستندویه ډاټا او په کافي اندازه عکسونه، ډیاګرامونه او جدولونه ولري، چي د زده کونکو سره د متن په پوهېدو کي مرسته وکړي. ابلن کونیګورت او ټاملینسن (۱۹۸۴) پر همدې نظر تاکید کوي، چي د لیکلو او لیدلو ترمنځ باید په درسي کتاب کي انډول مراعت سي. شلډن (۱۹۸۸) پر دې ټینګار کوي، چي معلوماتي انځوریز توکي د زده کړي بهیر ته مثبته روحیه وربخښي. د دمیر چک لېست دا برخه هم تر ٦٠ سلني کمه فیصدي اخلي یعني باید پکښي اصلاح راوستل سي.

د چیک لیست اخرینی برخه علمي ملاحظات (Practical Considerations) تشکیلوي؛ چي پکښي ۱۴ سوالونو ته جوابونه ویل سوي دي. د نصاب له پاره نړیوال معیار دا دئ، چي باید هر دري کاله وروسته د وخت د شرایطو او بازار سره سم تحلیل او د ضرورت په اندازه پکښي زیاتوني او کموني راوستل سي، خو له بده مرغه د افغانستان نصاب له تېرو پنځلوسو کالو راهیسي بېله کوم تغیره پر خپل ځای پاته دئ. بله اساسي ستونزه چي لیدل کیږي، هغه په ښوونځیو کي د کتابونو نه موجودیت دئ. دا د هر زده کوونکی حق دئ، چي باید کتاب ولري؛ خو د پوهني وزارت اړوند کتابونه د کمښت سره مخ دي. ورسره جوخت په بازار کي بیا په پیسو موندل کېدلای سي؛ که څه هم دا غیري قانوني عمل ځکه د معارف کتابونه وړیا دي. د اداري فساد په ترڅ کي بیاهم کتابونه په مناسب نرخ پلورل کیږي. د اوسني کورس کتاب سره زده کړیز صوتي او تصویري توکي، په انلاین شکل تدریس، تمرینات او د مختلفو ستراتیژیو پر مټ تدریس اړوند پوښتل سوي سوالونه منفي جواب اخلي، ځکه په دې اړوند په ټولو دورو کي پښتو مضمون څه نه لري. د نصاب له پاره ټاکل سوي اهداف او د کتاب موضوعات، د ELT مېتودونه، له ښوونځي دباندي په انفرادي توګه زده کړه او د نصاب طرز او ډیزاین د زده کوونکو له پاره پوښتني منفي جواب لري. په دې ټولو برخو کي زیاتي ستونزي لیدل کیږي. د مثال په توګه: په کتاب کي اهداف د پښتو ژبي د ګرامر مطالعه او زده کړي وي، خو دوی ورته د شرابو زیانونه، له بشري حقوقو څخه دفاع، توکي او ټکالي

او بعضي اجتماعي مسائل راوړي دي؛ ولي د ژبپوهني عناوین نه لري. یعني اهداف ئې لیکلي وي، خو راخیستي ئې نور څه وي. د چک لېست اخري پوښتنه (ایا د کورس کتاب د زده کوونکو اجتماعي او تاریخي حالت ته پام سره ډیزاین سوی دئ؟) هم منفي جواب لري په هره دوره کي باید د کوچنیانو د سويې مطابق په ټولنیز او تاریخي لحاظ مسائل مطرح کړل سي، خو برعکس دلته دا اصل نه دئ مراعت سوی. د بشر حقوق، سیاست، غیري منطقي تړاو لرونکي نړیوال بحثونه او د ملي قهرمانانو تر نامه لاندي محلي قوماندان د کوچنیانو په اذهانو کي پېچکاري کېږي. په داسي حال کي چي دا برخه باید د پښتو ادبیات او ژبپوهني په مسائلو نیولی سوې وای. د فیصدۍ په لحاظ د عملي ملاحظاتو برخه هم تر شپېتو سلني کمه ده، چي د منلو قابلیت نه لري.

## پایله

د اوسني تحقیق پایلي موږ ته دا ښیي، چي اوسنی د عالي دورې کرېکولم عاجل اصلاح او سمون ته اړتیا لري. پر شاگردانو او ښوونکو دا غیري منظم ناقیص نصاب ډېر منفي تاثیرات اچوي. کله چي همدا زده کوونکي په پوهنتون کي د پښتو ژبي او ادبیاتو څانگي ته بریالي کېږي او هلته په عالي سطحه د ژبپوهني درسونه ورته ویل کېږي هغه مهال د نابلدۍ په انجام کي د ناکامۍ کندي ته لوېږي. بل مهم تاوان چي رامنځته کېږي هغه د ژبو او ادبیاتو مسلک ته نه علاقمندي زیاتوي. په کمیتي لحاظ د دمیر چک لېست چي په څلورو برخو کي ٥٦ ارزونکي پوښتني لري دا په ډاگه کوي؛ چي د ښوونځي د پښتو مضمون نصاب د مطالبو او مضامینو، اصلي او فرعي مهاتونو، ترتیب او فزیکي جوړښت او علمي ملاحظات په برخه کي تر ٪٦٠ کم مثبت پایلي لري، چي د دمیر چک لېست پر اساس د منلو او چلښت قابلیت یاد کرېکولم نه لري. معاصره ژپوهنه نن سبا د ژبي زده کړي له پاره خورا اړین علوم بلل کېږي، څکه په اجتماعي او ساینسي علومو کي حسابیږي.
د دې څېړني موندني دا په ډاگه کوي، چي اوسنی پښتو نصاب د ژبپوهني برخه له گنو نیمگړتیاوو او ستونزو سربېره کابو پنځلس کاله پخوانی دئ. که چیري د معارف وزارت د ملي نصاب جوړونکي کمېټه د دې نصاب ژر تر ژره جوړونه او اصلاح و نه کړي د پښتو ژبي حالت به د پرمختگ پر ځای شاتگ وکړي او د مسلکي پوهانو د کمښت سبب به ئې وگرځي. که چیري د دې څېړني موندني د یاد وزارت استازي په خپلو کړنلارو کي منعکسي کړي موږ به د پښتو ژبي له پاره ښه معیاري نصاب رامنځته کړی واوسي؛ داسي چي پکښي د ژبپوهني او ادبیاتو مساوي موضوعات وېشل سوي وي .

## وړاندیزونه

د دې څېړنې تر ترسره کولو وروسته د ښوونځې په پښتو نصاب کې لاندې تطبیقي او څېړنیز وړاندیزونه کوو:

### تطبیقي وړاندیزونه

اوسنی نصاب له تېرو دیارلسو کالو راهیسې هیڅ بدلون نه دئ موندلی او د نوي کولو ډېره تشه ئې احساسېده. دا چې نوی نظام راغلی دئ او غواړي بسته ښوونیز نصاب تر فلټر ایستلو وروسته نوی کړي؛ په دې اړوند مې د پوهني وزارت ته اولنی وړاندیز متوجې دئ، چې باید د ملي نصاب جوړونکي کمېټه له مسلکي او ژمنو پوهانو څخه وګماري. اوسنی او دې ته ورته څېړنیز اثار به د دوی کار لا معیاري او ګټور تمام کړي. د پښتو اړوند نصاب جوړونکي باید داسي څوک وي، چې په مساویانه توګه د ادبیاتو او ژبپوهني وېش وکړای سي. په عمومي توګه ټول او په ځانګړې توګه د پښتو کتابونو له پاره دې د یوې سیمې د لهجې په عوض ټول شموله ژبه وکارول سي. د کتابونو د پوهېدني له پاره دې په صوتي او اوریز شکل مواد هم برابر کړل سي. د پښتو ژبې د تدریس له پاره دې د پښتو ژبې او ادبیاتو مسلکي ښوونکي استخدام کړل سي .

### څېړنیز وړاندیزونه

اوسنی موضوع خورا پراخه ده، نور څېړونکي کولای سي چې د ادبیاتو له رویه د پښتو نصاب کتنه وکړي. څېړونکي باید خپل دغسې علمي اثار د ملي ژبو ترځنګ په نړیوالو ژورنالونو کې خپاره کړي. د معارف وزارت ته په کار ده، چې د څېړنیزو پروژو د کومک او بشپړتیا په پاره د محقیقانو سره کافي د ماخذونو او ارقامو پر برابر همکار پاته سي. خپل د وزارت صفحې ته دې تازه او نوي معلومات پورته کړي.

## اخځلیکونه

اصغري, م. ج. (۱۳۹۰). تعلیم و تربیت در افغانستان . کابل: پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی.

پالوال, ع. (۱۳۳۹). د ژبې مبدآ او را پاڅېدنه. کابل مجله، , ۴ګڼه.

پاینده محمد زهیر، داکتر سید محمد یوسف. (۱۳۳۹). د افغانستان د معارف تاریخ. کابل: د پوهني وزارت.

پوهني وزارت. (۱۳۹۰). پښتو د لسم ټولګي له پاره. کابل افغانستان: د پوهني وزارت د نصاب خانګه؛

پوهني وزارت. (۱۳۹۰). پښتو دیوولسم ټولګي له پاره. کابل افغانستان: د پوهني وزارت د نصاب ځانګه؛

پوهني وزارت. (۱۳۹۰). پښتو د دولسم ټولګي له پاره. کابل افغانستان: د پوهني وزارت د نصاب خانګه؛

شینواری, د. م. (۲۰۱۸, ۵ ۲۸). Retrieved from تاند: https://taand.net/?p=127783

شینواری, م. (۱۳۴۳). د رسم الخط خبري. کابل مجله, ۱۲ ګنه.

وردګ, ګ. آ. (۱۳۹۵). سیر تاریخي معارف افغانستان. کابل: ریاست نشرات و اطلاعات وزارت معارف.

وزارت, م. (۱۳۵۲). د ۱۳۵۱ ش د افغانستان معارف احصائیه. کابل: د معارف وزار، د پلان ریاست.

Adele, M. E. J. (2007). Muslim and Western influences on school curriculum in post-war Afghanistan. *Asia Pacific Journal of Education,* 27(1), 27-40. https://doi.org/10.1080/02188790601142900

Ahmad, I. (2004). Islam, democracy and citizenship education: An examination of the social studies curriculum in Pakistan. *Current Issues in Comparative Education*, 7, 1–11.

Azizifar, A., Koosha, M., & Lotfi, A. R. (2010). An analytical evaluation of Iranian high school ELT textbooks from 1970 to the present. *Procedia - Social and Behavioral Sciences*, 3, 36-44.

Cirocki, A. (2010). Age is only a number: Evaluating and modernising dated EFL materials. *MATSDA Folio*, 14(2).

Demir, Y., & Ertas, A. (2014). A suggested eclectic checklist for ELT coursebook evaluation. *Reading*, 14(2), 243-252.

Dörnyei, Z., & Taguchi, T. (2010). *Questionnaires in second language research: Construction, administration and processing* (2nd ed.). New York: Routledge.

Holloway, I., & Wheeler, S. (2010). The semi-structured interview. *Qualitative Research in Nursing and Healthcare*, 89.

Khodabakhshi, M. (2014). Choose a proper EFL textbook: Evaluation of “Skyline” series. *Procedia - Social and Behavioral Sciences*, 98, 959-967.

McGrath, I. (2002). *Materials evaluation and design for language teaching*. Edinburgh: Edinburgh University Press.

Rahmany, A. B., & Khan, M. R. (2022). Evaluation of high school English textbooks: “English for Afghanistan” based on McDonough and Shaw’s (2003) model. *International Journal of Applied Linguistics and English Literature*, 11(2), 72-78.

Richards, J. C. (2001). *Curriculum development in language teaching*. Cambridge, UK: Cambridge University Press.

Richards, J. C., & Renandya, W. A. (2002). *Methodology in language teaching: Anthology of current practice*. Cambridge University Press.

Salehi, H., & Amini, M. (2016). Critical analysis of a new English textbook used in Iranian junior high schools. *Journal of Applied Linguistics and Language Research*, 3(3), 42-54.

Sahibzada, J., Saeedi, K. H., & Hussaini, M. A. (2018). The causes of English language and literature students' poor English skills at Kandahar University. *International Journal for Innovative Research in Multidisciplinary Field*, 4, 177-185.

Sheldon, L. E. (1988). Evaluating ELT textbooks and materials. *ELT Journal*, 42(4), 237–246.

Feez, S. (2002). *Text-based syllabus design*. Sydney: Macquarie University.

Thaman, K. (2001). Towards culturally inclusive teacher education with specific reference to Oceania. *International Education Journal*, 2, 1–8.

Tomlinson, B. (2001). Materials development. In R. Carter & D. Nunan (Eds.), *The Cambridge guide to teaching English to speakers of other languages* (pp. 66-71). Cambridge: Cambridge University Press.

Tomlinson, B. (2003). *Developing materials for language learning*. London: Continuum.

Torki, F., & Chalak, A. (2017). An evaluation of English textbooks used in Iranian high schools: Teachers' and learners' attitudes. *Research in English Language Pedagogy*, 5(1), 52-60

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# Evaluation of Linguistic Topics for the Development of the Pashto Curriculum at the Higher Secondary School Level

Habibullah Popal[*1] , Atiqullqh Mashal [2], Nasir Ahmad Tayeed[3]
[1,2]Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Kandahar University
[2]Department of English Language and literature, Education Faculty, Kandahar University
**Email:** asadullahtt@gmail.com

## Abstract

Current research examines and evaluates linguistic topics related to the secondary school curriculum in Pashto to develop a balanced and enriched curriculum in Pashto for schools. The evaluation of the Pashto curriculum for the secondary school level has utilized the selected checklist by Damir and Irtas (2014), and the issues are explained using a descriptive methodology. The findings indicate that the curriculum of the Pashto subject under the Ministry of Education of Afghanistan has been assessed as having more than 60% inadequacy in terms of content and subjects, core and peripheral skills, organization, physical structure, and academic considerations, which according to Damir's checklist lacks acceptance and operational capability. The findings of this research are of vital importance in the process of developing a new Pashto curriculum, and its implementation will lead to a standardized curriculum.

**Key words:** Pashto language, linguistics, school and curriculum.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:1 Issue: 2 Year:2025**